# ګډه اعلامیه: د جزایي عدالت په نړیواله ورځ د افغانستان لپاره د حساب ورکونې په اړه د اقدام غوښتنه

۱۷ جولای ۲۰۲۶

نن ورځ، د جزايي عدالت په نړيواله ورځ، موږ، افغان او نړيوال د بشري حقونو او مدني ټولنې بنسټونه، نړيوالې ټولنې ته يادونه کوو چې نړيوال قانون يوازې هغه وخت پياوړي وي چې په اغيزمنه توګه عملي او پلي شي. په داسې حال کې چې موږ د اګست په ۱۵مه د طالبانو لخوا د افغانستان د واکمنۍ پنځم کال ته نږدې کېږو، د افغانستان په اړه د نړيوالې ټولنې غبرګون له يوې مهمې او برخليک ټاکونکې څلورلارې سره مخ دی. په تېرو پنځه کلونو کې په تدريجي ډول د بشري حقونو د سرغړونو عادي کيدل او د حساب ورکونې په پلي کولو کې پاتې راتلل، طالبان نور هم زړور کړي دي، چې له امله يې پر افغان ښځو او نجونو سيستماتيک ظلم او ځپنه زياته کړې دی. نن ورځ، موږ د نړيوالې حقوقي حساب ورکونې د سمدستي او همغږې بيا راژوندي کيدو غوښتنه کوو، ترڅو د بې سزا پاتې کيدو کلتور له منځه يووړل شي، کوم چې د نړۍ د ښځو د حقونو د تر ټولو سخت بحران د رامنځته کوونکو ساتنه کوي. .

په افغانستان کې اوسنی کړکيچ په تشه فضا کې نه دی رامنځته شوی؛ بلکې دا د هغو لسيزو ژور او ناحل شوې معافيت مخامخ پايله ده چې د (حساب روکوني پرته معافيت) يې رامنځته کړي دي. ، چې له امله يې د بېلابېلو ښکېلو لورو له خوا د جګړو او بشري حقونو د سرغړونو پرله‌پسې دورو د قربانيانو نسلونه له حقيقت، عدالت او جبران څخه بې‌برخې پرېښې دي. د افغانستان د ښځو، نجونو او ټولو متنوعو ټولنو لپاره، نړيواله حساب ورکونه يوازې يو انتزاعي حقوقي مفهوم نه دی؛ بلکې دا په نړيوال نظم او د نړيوال بشري حقونو په جوړښت کې زموږ د باور لپاره د سنجش معيار دی. له عامه ژوند څخه د ښځو سيستماتيک حذف کولو، له شپږم ټولګي څخه پورته د زده کړې بنديز، په کار، تګ راتګ ازادۍ او بيان باندې سخت محدوديتونه هر اړخيز عدالت غواړي. د طالبانو ظالمانه او تبعيضي پاليسۍ په مستقيم ډول د نړيوالو قوانينو له مخې د افغانستان لازمي مکلفيتونه نقض کوي، د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعيض د له منځه وړلو کنوانسيو (CEDAW) په ګډون. سربېره پر دې، د ناوړه چلند دغه پراخ او سيستماتيک کمپاين د جنسيت پر بنسټ د ځورونې (Gender Persecution)په نوم د بشريت ضد جرم ګڼل کيدای شي، چې يو ډېر دروند نړيوال جرم ګڼل کېږي. د همدې جرم له امله، د جزا نړيوالې محکمې (ICC)لا د وړاندي د طالبانو د دوو مشرانو د نيولو حکمونه صادر کړي دي.

موږ بايد په څرګنده توګه روښانه کړو چې حساب ورکونه د انزوا معنی نلري. د عدالت غوښتنه دا معنا نه لري چې د اړيکو دروازې وتړل شي يا حياتي بشري مرستې ودرول شي. برعکس، دا د اصولي تعامل غوښتنه کوي؛ داسې يو چوکاټ چې له طالبانو سره هر ډول تعامل پکې په کلکه د بشري حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د حقونو، د څرګندو او عملي پرمختګونو پورې مشروط وي. همدارنګه، د نړيوالو حقوقي مکلفيتونو سره مطابقت، او د افغانستان د خلکو، په ځانګړې توګه ښځو، نجونو، قربانيانو، ژغورل شويو، د بشري حقونو مدافعينو، اقليتونو، او نورو څنډې ته شويو ټولنو د معنی لرونکې، خوندي او اغيزمن ګډون پر بنسټ ولاړې وي.

د ظلم او ځینې د دې بنسټیز شوي سیستم له منځه وړلو لپاره، نړیواله ټولنه باید د "ټولو وسیلو" تګلاره استفاده کړي، او د عدالت د ټینګښت لپاره ټول موجوده میکانیزمونه او وسایل په هم مهاله او همږغي توګه وکاروي.

موږ د ملګرو ملتونو پر غړو هېوادونو او پراخې نړیوالې ټولنې غږ کوو چې د لاندې سپارښتنو په اړه بیړني او اغېزمن ګامونه پورته کړي. دا هغه سپارښتنې دي چې افغان مدني ټولنې په په پرلپسې ډول وړاندې کړې دي، او د افغانستان د ښځو لپاره د تاریخي ولسي محکمې په پریکړه کې هم پرې بیا ټینګار شوی دی:

- **د نړیوالې جزایي محکمې (ICC) د تحقیقاتو ګړندۍ کول او د نیولو د حکمونو پلي کول:** موږ د نړیوالې جزايي محکمې لخوا په ۲۰۲۵ کال کې د طالبانو د مشر، هبت الله اخوندزاده او قاضي القضات عبدالحکیم حقاني په وړاندې د انسانیت ضد جرمونو، په ځانګړې توګه د جنسیتي ځورونې او نورو جرمونو په اساس د نیولو د حکمونو د صادرولو تاریخي ګام ښه هرکلی کوو. خو د نیولو حکمونه تر هغه چې عملي نشي، محدود اغېز لري. موږ د نړیوالې جزایي محکمې له څارنوال او غړو هېوادونو ټینګه غوښتنه کوو چې چې د حساب ورکوونې بهیر او پرمختګ ته دوام ورکړي، د راتلونکو ګامونو په اړه شفافیت ډاډمن کړي، او نه یوازې د دغو کسانو بلکې د نورو مسؤلو مشرانو د نیولو هڅې هم وکړي. نړیواله جزایي محکمه د افغانستان د قضیې د څېړنې د صلاحیت له مخې د ټولو قربانیانو پر وړاندې مکلفیت لري او باید د تحقیقاتو ساحه تر طالبانو پورې محدوده نکړي. د مثال په توګه، د اسلامي دولت خراسان ځانګې (ISKP) ځواکونو د هزاره-شیعه ټولنو او نورو مذهبي اقلیتونو باندې د لسګونو غیرقانوني بریدونو مسؤلیت په غاړه اخیستی، چې زرګونه کسان یې وژلي او ټپیان کړي دي. د طالبانو او اسلامي دولت خراسان ځانګې د غړو پر وړاندې د قضیو د تعقیب سربیره، د نړیوالې جزایي محکمې څارنوال باید د د پخوانیو افغان امنیتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونو په ګډون د هغو ادعا شویو جرمونو په اړه هم قضیې پر مخ یوسي چې د جګړې د ټولو نورو ښکېلو لورو له خوا ترسره شوي دي.

- **د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) غړو هېوادونو لخوا عاجل اقدام او شفافیت:** موږ د اسټرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ له هغه مهم حقوقي نوښت ښه هرکلی کوو چې موخه یې د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) له مخې د افغانستان حساب ورکول دي. لکه څنګه چې دا پروسه پرمخ ځي، موږ پر دغو هېوادونو غږ کوو چې د اخلافاتو د حل له کړنلاریزو پړاوونو څخه ژرتر ژره عملي -حقوقي اقداماتو ته واوړي. سربیره پردې، موږ د دې قضیې د پرمختګ په اړه د بشپړې روڼتیا غوښتنه کوو او پر دې ټینګار کوو چې له افغان مدني ټولنې، حقوقي متخصصینو او ژوندي پاتې شویو قربانیانو سره دوامدارې، خوندي او د قربانیانو پر اړتیاوو ولاړې مشورې باید په رسمي او بنسټیز ډول رامنځته او دوام ومومي، څو د هغوی ژوندۍ تجربې په مستقیم ډول د دې قضیې د حقوقي ستراتیژۍ په جوړولو او پلي کولو کې منعکسې شي.

- **د افغانستان لپاره د خپلواک تحقیقاتي میکانیزم (IIMA) لپاره بشپړ تمول او پیاوړتیا:** موږ د ۲۰۲۵ کال په اکتوبر کې د افغانستان لپاره د خپلواک تحقیقاتي میکانیزم له جوړیدو هرکلی کوو. دغه میکانیزم باید سمدستي او په بشپړ ډول فعال شي، کافي مالي او تخنیکي منابع ورته برابري شي، او د هغه خپلواکي په کلکه خوندي وساتل شي. په دې درک سره چې ریښتینې عدالت د بحران اصلي لاملونو ته رسیدګي غواړي، د میکانیزم د پراخ صلاحیت ملاتړ باید په بشپړه توګه وشي، تر څو د افغانستان د اوږدې جګړې په بهیر کې د ټولو ښکېلو لورو له خوا د تېر او روانو جدي سرغړونو په اړه څېړنې وکړي او د ټولو قربانیانو لپاره د عدالت د تأمین زمینه برابره کړي. همدارنګه، دغه

میکـانیزم بایــد د جنســیت او د ماشــومانو د حقونــو تخصصيــ وړتیــاوي ولــري، او لــه قربانیــانو او ژغــورل شــویو سره د خوندي، دوامدارو او بنسټیزو لارو چارو رامنځته کول او ساتل تضمین کړي.

- **د سـیمه ایـزې مـدني ټـولنې د مسـتند کولـو لپـاره بودیجـه او ملاتـړ** : د نړیـوالې حسـاب ورکـونې میکانیزمونـه د افغـان مـدني ټـولنې بنسـټونو، د بشرـي حقونـو مـدافعینو، او د مسـتند کولـو شـبکو پـه زړور او حیـاتي کـار تکیـه لـري؛ چـې هـم د هېـواد دننـه او هـم پـه جلاوطنـۍ کـې فعالیـت کـوي. مـوږ پـر نړیوالـو بسـپنه ورکوونکـو غـږ کـوو چـې پـه مسـتقیم ډول د افغانسـتان دننـه او پـه تبعیـد کـې د لـومړۍ کرښـې لوبغـاړو تـه انعطـاف منـونکی، اوږدمهالـه مـالي او سـیاسي ملاتـړ برابـر کـړي. د سرغړونـو مسـتند کـول د عـدالت لپـاره یـو بنسـټیز شرط دی؛ نړیوالـه ټولنـه بایـد پـه فعالـه توګـه د افغـان بشرـي حقونـو مـدافعین خونـدي کـړي او ډاډ ترلاسـه کـړي چـې د دوی مسـتند شـوي اسـناد پـه خونـدي توګـه نړیوالـو حسـاب ورکونې بهیرونو ته ورسیږي.
- **د جنسـیتي اپارتایـد قـانوني پیژندنـه** :مـوږ د ملګـرو ملتونـو پـر غـړو هېوادونـو غـږ کـوو چـې پـه ښـکاره ډول "جنسـیتي اپارتایـد" اصـطلاح د بشرـیت ضـد جـرم پـه توګـه د بشرـیت ضـد جرمونـو د معاهـدې پـه مسـوده کـې پـه رسـمیت وپیـژني او قـانوني بنـه ورکـړي. پـه افغانسـتان کـې د روان وضـعیت د هغـه د اصـلي او ریښـتیني نـوم لـه مخـې پېژنـدل، د یـوه هـر اړخیـز نړیوال حقوقي حل لارې د رامنځته کولو لپاره حیاتي اهمیت لري.
- **ځانګړي راپـور ورکـوونکي تـه حیـاتي سیاسي او مـالي ملاتـړ چمتـو کـول** :موږ د افغانسـتان د بشرـي حقونـو د وضـعیت پـه اړه د ملګـرو ملتونـو لـه ځـانګړي راپـور ورکـوونکي، ښـاغلي ریچـارډ بېنیـټ، او د هغـه لـه ماموریـت څخـه خپلـه ژوره مننـه څرګنـدوو، کـوم چـې د خپلـواکې څـارنې، راپـور ورکولـو، او مسـتند کولـو لپـاره یـوه اړینـه حیـاتي کرښـه پـاتې ده. مـوږ د ملګـرو ملتونـو پـر غـړو هېوادونـو غـږ کـوو چـې د ماموریـت لپـاره د نـه کمیـدونکي سـیاسي ملاتـړ او قـوي مـالي سرچینـو پـه چمتـو کولو سره د ځانګړي راپور ورکوونکي اغیز اعظمي کړي.
- **پـه افغانسـتان کـې د وضـعیت پـه اړه د بنسـټیزو تحقیقـاتو پیـل کـول او د نړیوالـو جرمونـو څارنـه** :د نړیـوال صـلاحیت د اصـل لـه مخـې دي څېـړني او د جرمونـو څـارنې تـرسره شي. مـوږ د نـړۍ پـه کچـه پـر مـلي څـارنوالیو غـږ کـوو چـې د نړیـوال قضـاوت د اصـل لانـدې پـه افغانسـتان کـې د تـرسره شـویو ظلمونـو پـه اړه تحقیقـات پیـل کـړي. پـه دې برخـه کې، له هغو افغان مدني ټولنو سره همکاري چې د سرغړونو په مستندکولو کې ښکېلې دي، حیاتي اهمیت لري.

مـوږ اجـازه نـه شـو ورکـولی چـې لنډمهالـه سـیاسي ګټـې د افغانسـتان راتلـونکی وټـاکي، قربانیـان او ژونـدي پـاتې شـوي کسـان د نـاهیلۍ پـر لـور بـوځي، او نـړۍ دې تـه اړ کـړي چـې هېـرول غـوره کـړي. د دې کـړکېچ لـه پیلېـدو پنځـه کالـه وروسـته، او پـه داسـې حـال کـې چـې نـړۍ د جزایـي عـدالت نړیوالـه ورځ لمانځي، پـر نړیـوال نظـم د بـاور کمـزوري کېـدل بایـد د بېړنیـو، عمـلي او مشخصـو حقـوقي او سـیاسي اقـداماتو لـه لارې ځـواب شي. د افغانسـتان ښـځې او مـدني ټولنـه لا هـم مقاومـت تـه دوام ورکـوي؛ اوس د نـړۍ مشران، د ملګرو ملتونو بنسټونه او نړیوالې محکمې او قضایي ارګانونه باید سیاسي زړورتیا وښیي او د دوی ترڅنګ ودرېږي.

د دې اعلامیې د ټولو لاسلیک کوونکو د بشپړ نوملړ د لیدلو لپاره، مهرباني وکړئ انګلیسي نسخه وګورئ.